مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۲۶ / ۰۵ / ۰۳

# یو اړخیز او بې بنسټه قضاوت

محترم جهانی په خپله یوه لنده تبصره کې « د پاکستان د پوځ د اخلاقي سقوط اوج» تر عنوان لاندې لیکني په اړه د لنډې یوې میاشتې په وقفه کې یو ځل بیا زه د ځواب ویلو ته بللی یم. که دا پلټنه دوام ومومي، په رښتیا داسې ذهنیت رامنځته کېږي چې ګواکې په رسنیو کې لیکوالان او روڼ اندي له یو نوي او عصري محتسب یا « امر بالمعروف » سره مخ دي او باید په احتیاط قلم وچلوي. داسې ښکاري چې دا محتسب د سوتې په ځای قلم په لاس کې لري او خلک « صراط مستقیم » وطن دفاع ته لاربنودنه کوي، خو د تکفیر حکم نه صادروي.

له دې ټوکې وروسته، چې هیله ده د محترم جهانی نازک او شاعرانه طبع به یې نه وي ځورولی، راځو د هغه تبصرې ته :

**د ښاغلي جهانی د تبصرې لنډیز داسې دی :**

ـ افغانستان په تېر وخت کې منظم پوځ او معیاري حکومت درلود. سره له دې چې پاکستان د سنتو او سیټو په تړونونو کې شامل و، افغانستان کولی شول له پاکستان سره مقابله وکړي او آن په ځینو مواردو کې تعرضي دریځ غوره کړي.
ـ افغانستان په اوسنیو شرایطو کې له پاکستان سره د نظامي مقابلې توان نه لري. تر ټولو مهم دلیل دا دی چې طالبان په مطلق ډیپلوماتیک انزوا کې دي او داخلي مشروعیت هم نه لري.

د محترم جهانی په ځواب کې باید ووایم چې د سیمې او افغانستان وضعیت په تېرو نیمو پېړیو کې د پام وړ بدلونونه تجربه کړي دي. پر افغانستان د دوو ابرقدرتونو یرغلونو په دغو بدلونونو کې مهم رول لوبولی دی.

د افغانستان او پاکستان اړیکې نن ورځ د نیمې پېړۍ مخکې له وضعیت سره نه شي پرتله کېدای. د سلطنت په وخت کې د پاکستان پر وړاندې د افغانستان اعتراضونه تر ډېره د « دا پښتونستان زموږ» راډیویي تبلیغاتو او د پښتونستان د ورځې تر لمانځنې محدود وو. په کابل کې د څو شارلتانانو او مفت خواره کسانو لکه صمد خان او محمود خان اچکزي مېلمه پالنه د پښتونستان د داعیې په اړه د سلطنت د جدي دریځ نښه نه شي ګڼل کېدای. د ظاهر شاه د ځلوېښت کلنې واکمنۍ پر مهال یو پاکستانی سرتېری هم ونه وژل شو. دا چې ستاسو په وینا هغه مهال افغانستان تعرضي دریځ درلود، دا یو شاعرانه خیال یا له تخیل سره ګډ ماضي زماني ته تېښته ده.

په تېرو نیمو پېړیو کې کدوالی، جګړې او آزاد تګ او راتګ د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو قومونه جبراً له یو ګډ برخلیک سره تړلي دي. له پاکستاني جهادي ډلو، په ځانګړي ډول ټي ټي پي سره د افغان طالبانو عاطفي او عقیدوي اړیکې ( چې د پاکستان د مرتد پوځ پر بدن لړزه اچولې ) هېڅکله کم اهمیت مه ګڼئ.

په تېر یو کال کې، د پاکستان د اجیر پوځ د رسمي اعتراف له مخې، ۷۰۰ پوځیان او پولیس د ټي ټي پي له خوا وژل شوي دي. پر دې باید هغه لسګونه نورې وژنې هم ورزیاتې کړو چې په پلازمینه کابل کې د فوج د بمباریو نه وروسته د ډیورنډ کرښې په اوږدو کې د افغان طالبانو د انتقامي بریدونو ښکار شوي دي.

د ټي ټي پي او افغان طالبانو له لوري د پاکستان د مرتد او اجیر پوځ ته تلفات تحمیلول یو حقیقت ثابتوي: که څه هم افغانستان نن د پاکستان له پوځ سره په متعارف (کنوانسیونل) جګړه کې د مقابلې توان نه لري، خو د پوځ پر وړاندې د جهاد وسله په لاس کې لري، چې باید له احتیاط او د معاصرې نړۍ د میداني واقعیتونو په درک سره وکارول شي. دا په دې معنا ده چې د جهاد فتوا باید له داسې مرجع څخه صادره شي چې هم دیني مشروعیت ولري او هم مدني درک. مدني درک دا دی چې جهاد باید لکه د افغانستان په څېر د نجونو د تعلیم، د ښځو د کار، هنري او تفریحي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

فعالیتونو د بندېدو او په پای کې د موسیقی د حرام اعلان لامل نه شي. که نه نو، نړۍ به د افغانستان د طالبانو او ټي ټي پي پر وړاندې د پاکستان د پوځ په ننګه درېږي.

د افغانستان پر پلازمېنه د پاکستان د پوځ بې ساري هوايي برید طالبانو ته ښه پلمه ورکړه چې په پاکستان کې د جهاد رېښې نورې هم ټینګې او اغزن تارونه راټول کړي.

خو له بده مرغه، ښکاري چې طالبان د دې وسلې له کارولو څخه شاتګ کړي : طالبان په پاکستان کې د جهاد د منع اعلان او د اغزن تار د راټولولو د درولو له لارې یې خپله ژغورنه عملاً د پاکستان د پوځ رحم او شفقت ته پرېښې ده.

بله مهمه خبره دا ده چې د پاکستان سره د مقابلې لپاره د افغانستان طالبان باید له ډیپلوماتیکي انزوا د وتلو وروسته د باور وړ سیمه ییزو او نړیوالو متحدینو په لټه کې شي. روسیه، چین، هند، امریکا او اروپایي ټولنه هر یو کولای شي، د ډیورنډ کرښې د لغوه کولو او د پاکستان د اټومي خلع سلاح په برخه کې د خپلې علاقې له کچې سره سم، د افغانستان ستراتیژیک متحد شي.

**د درنو وسلو اخیستل هم د ستراتیژیکو همکاریو په چوکاټ کې ممکن دي.**

د ستراتیژیک متحد موندل له دې امله مهم دي چې په نننۍ نړۍ کې د استعماري کرښو او سرحدونو له منځه وړل پرته له دې چې د هغو پخوانیو استعماري قدرتونو ملاتړ ترلاسه شي چې یې کښلي دي، ممکن نه دي.

افغانستان د طالبانو تر واک لاندې تر پخوا نه زیات په داسې ډېریز کې دی چې له پاکستان سره د حساب او کتاب وړتیا لري. خو په دې شرط چې طالبان له خپل ځواک څخه په احتیاط او د ۲۱مې پېړۍ د واقعیتونو په درک سره استفاده وکړي. یعني یو ټول شموله افغان حکومت د اساسي قانون په چوکاټ کې جوړ کړي او نظام له ډیپلوماتیکي انزوا څخه وباسي.

د پراخ بنسټ حکومت جوړول هغه وخت مطرح کیږي چې د طالبانو اوسني واکمني د پاکستان په وړاندې د افغانستان د ځمکني بشپړتیا په دفاع جوګه نشي. همدا اوس دغه کمزورتیا په ټیټه کچه محسوسیږي.

واقعیت دا دي چې که د پښتونستان داعیه او د ډیورنډ کرښې مسئله د طالبانو له خوا د جهاد له لارې او هم مهاله د ځو اړخیزې او پراخې ډیپلوماسۍ له لارې حل نه شي، هېڅکله به حل نه شي.

له همدې امله، د محترم جهاني دا خبره تر یوه حده سمه ده چې د طالبانو اداره په اوسنیو شرایطو کې له پاکستان سره د مقابلې توان نه لري، مګر دا چې بنسټیز اصلاحات راولي او د حکومتدارۍ هغه اصول پلي کړي چې پورته ورته اشاره وشوه.

که یو معیاري حکومت جوړ شي او طالبان ځانته ستراتژیک انډیوال راپیدا کړي، نو دا ویل چې طالبان د پاکستان پر وړاندې د مقابلې ظرفیت نه لري، یو اړخیز او بې‌بنسټه قضاوت دی چې پاکستان به تري ګټه واخلي.

**«پای»**



آرشیف: مطالب نشر شدهٔ دوکتور محمد عثمان تره کی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ